بسم الله الرحمن الرحیم



# لکی مروت: د کالعدم تحریک طالبان پاکستان په ضد د امنیتی ځواکونو کامیاب عملیات، دوه ترهګر دوزخ ته لیګدول شوی، کمینګاه له منځه وړل شوي ده

د استخباراتي معلوماتو په اساس امنیتي ځواکونو د لکی مروت په پهاړ خیل سیمه کې د خوارج په کمینونو چاپه وهلې۔ په متقابلو ډزو کې دوه تنه ارهګر وژل شوي او څو تنه ترهګر په تېښته بریالي شوي۔ د عملیاتو په لړ کې 2 تنه امنیتي اهلکار په خورا مېړانه او زړورتیا د شهادت لوړ مقامونه ترلاسه کړل۔







**د عملیاتو په ترخ کې په سیمه کې د ترهګرو لخوا د ځمکې لاندې هغه تنلونه هم له منځه وړل شوي چې د ترهګرو لخوا د مرکز په توګه کارول۔ په بریالیو عملیاتو کې په زیاته اندازه وسله او مهمات هم ترلاسه شوي دي۔**

د لکی مروت، ټانک او ډیره اسماعیل خان په مضافاتو کې د خوارج خلاف د امنیتی ځواکونو پرله پسې عملیات روان دی۔ تروریستانو ته نه د پټیدو چانس ورکول کیږي او نه هم د امنیتي ځواکونو سره د مخامخ کیدو جرئت لري۔ انشاءالله ډیر ژر به پاتې ترهګر هم له وحشته ډکه پای ته ورسیږي۔